# سپین کارغه



لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

پیخلیک: چنګابښ / کال [illegible]۴۰۶ [illegible]ږدي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** سپین کارغه

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پخښتی ډیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت – چنګاښ / کال ۱۴۰۶

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

....................................

## لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

**پخښنتی.......................................................................... ۱**
**بسم الله الرحمن الرحیم ............................................................ ۲**
**لیکي پوهه:.......................................................................... ۳**
**لړلیک ................................................................................ ٤**
**تراڼ (پیل، شروع، برید)........................................................... ٥**
**د یادښتونو له پاره:................................................................ ۷**
**کیسه، ناول یا داستان: ............................................................ ۸**
**د چاپ شویو کتابونو لېست.................................................... ٦۰**
**د کار لاندې کتابونو لېست .................................................... ٦٥**
**د امکان او وخت په صورت کې............................................... ٦٦**
**د پخښنتی څټ ........................................................................ ٦۷**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړی موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل د کوشنيانو(کوچنيانو)، تنکيو ځوا نانو له پاره ښکلی داستان (کيسه) وليکم او د خپلو کتابونو مينه والو او لوستونکو سره يې ګډ (شريکه) کړم.

زما د کتابونو مېنه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.
- انځورونه د ګوګل سایټ نه د داستان مطابق اخیستل شوي دي.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

## د یادښتونو له پاره:

۱- ................................................................

۲- ................................................................

۳- ................................................................

۴- ................................................................

۵- ................................................................

۶- ................................................................

۷- ................................................................

۸- ................................................................

۹- ................................................................

۱۰- ..............................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

**کیسه یا داستان:**

چچو ډېر زړور ځوان و.

هغه د ښکار سره مینه درلوده.

هغه یوه ټوپک چې د خولې د خوا ډکېده او په دهن پر ټوپکو مشهور و، درلود.

هغه به سهار وختي له خوبه پاڅېده او د خلکوځمکو په پولو به ګرځېد.

ټوپک به یې تل په غاړه و.

ټوپک خورا درووند او اوږد و.

اخوا دېخوا به ګرځېد.

که به یې ښه ښکار و نه لید، په یوې ټېکالې به یې هم ډز کوه.

کله به یې چې هغه و ویشته، ټوپک به یې د پولې په سر کېښود او ټېکالې پسې به یې منډې کړې.

هغه به یې و نیوه او چاکو به یې له جبه و وېست او هغه به یې حلاله کړه.

کلکه ناکله به هغې له ورایه ساه ورکړې وه.

هغه هسې له ډاره ورپسې منډې کوې چې وا نه ولزي او یا هم کوم بل ځوک یې وا نه خلي.

چچو به یوې ټېکالې او دوې چونچنو ښکار ته هم، خوشحاله و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

.................................

کوم وخت چې به یې ښکار وکړ، هغه به یې کور ته یووړ.

ښځې به یې له ورایه دیګ مینځلی او د نغري تر خوا به یې ایښی و.

نغری به یې پاک صفا کړی، لرګي به یې د نغري تر خوا ایښي، سنډ چوب او اورلګید به یې نغري ته، نږدې ایښی و.

کوم وخت چې به چچو تېکاله او یا مرغۍ د ننه کړه، ښځې به یې د هغه دلاس واخیسته او نغري ته به یې ورسوه.

التـه به یې ژر سپینه (پاکه) کړه.

ښکې به یې په بورۍ کې د ننه ترڅو د ښکو بالښت ترې جوړ کړي.

مرغۍ یا تېکاله به یې کټوې ته ښکته، پیاز، لږه مالګه به یې پرې ودوړوه او اوبه به یې په کټوې کې توې کړې (واچوې).

بیا به یې د کټوې لاندې اور بل کړ.

د مرغۍ د پخېدو نه وروسته به یې ورته تبی وکړ او د چچو په انتظار به شوه.

چچو به هم غرمې ته ځان ورساو.

د چچو ښځې به پیاوه توده او په کاسې کې به یې واچوه.

بیا دواړو د تناره توده ډوډۍ په کې میده کړه.

ښځې یې مرغۍ د خیشته کړې ډوډۍ پرسر کېښوده.

چچو به پیاز له جبه  وېست او پر دستر خوان به یې کېښود.

بیا به یې په سوک  و واهه او ځو ټوټې به یې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه
..................................

لړ مالګه به يې پرې واچوه او مړی وروسته به يې غاښونه پرې تاوده کړل.

وخت تېرېده.

د چچو په ژوند کې بدلون راغی.

مرغۍ هم لږې وې.

يوازې به دغنمو او شولو پخېدو په وخت کې به، ډېرې وې.

اوړی تېر او د منې موسم را ورسېد.

اوا(هوا) لږ په سړېدو شوه.

شولو هم خپل رنګ بدل کړ.

له لرې به ژېړې ښکارېدې.

مياشت بله هم تېره شوه.

شولې پخې شوې.

لږ، لږ مرغۍ ورسېدې.

په کابل او نورو ځايونو کې چې د انګورو شکونه (ټولونه) مخ په ختمېدو شوه، مرغيو به د تودو سيمو پلو، مخه کړه.

مرغۍ خورا ډېرې شوې.

چچو هم ډېر خوشحاله شو.

د ورځې به شلو نه تر دېرشو پورې مرغۍ، ويشتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

څه به يې په کور کې پخوې او څه نورې به يې په کور او کلي کې خرڅوې.

شولې لو شوې.

مرغۍ هم په ورکېدو شوې.

ژمی ورسېد.

اوا(هوا) سړه شوه.

د ژمې بادونو پيل شوو.

د مرغيو پر ځای کومې، کومې کارغۍ په سترګو کېدې.

هغوی به له يوې ونی نه، بلې ته الوتې.

کارغۍ ټولې په رنګ تورې وې.

د کارغه غوښه په شريعت کې مرداره ده.

خلک هم د هغه ښکار سره مينه نه لري.

يوه ورځ چې اوا(هوا) لږ سړه او آسمان هم وربځ و، چچو خپل ټوپک واخيست او غاړې ته يې واچوه.

چاکو يې له جبه و ويست او پر يوې تيږې يې تېره کړ.

بيا يې کات او جب ته يې د ننه کړ.

اخوا دېخوا يې و کتل.

بيا له انګړ نه د باندې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

د ویالو غاړو ونو په کتو شو.

د ونو په کتو، کتو وړاندې ته.

د لرې نه یې یوه سپین کارغه ولید چې د تورکارغه خوا کې ناست و.

هغه لږ وړاندې لاړ.

سوچ یې وکړ چې کومه غټه سپینه کوتره یا سپینه ځانه ده.

نور هم وړاندې لاړ.

بیا یې سوچ وکړاو له ځانه سره یې و ویل:

دا خو د کارغه په اندازه او کارغه سره په یوې ښانګې ناست دی.

بیا یې و ویل:

راځه!

هسې مرغۍ نه شته!

یو ډز به پرې وکړم.

بیا یې ټوپک له غاړې کوز او پولې ته یې ځان پټ کړ.

ټوپک یې د سپین مرغه خوا ونیوه او نښه یې کړ.

بیا یې پرې ډز او هغه له ښانګې نه ځمکې ته ولوېد.

چچو منډه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

هغه لږ زخمي وه.

بېرته ونې ته واولوته او پر يوې څانګې کښېناست.

چچو هغې ته نږدې شو.

هر څه خوارې يې وکړه تر څو هغه ونيسي، مګر لاس يې ورته و نه رسېد.

هغه په لمړي ځل سپین کارغه ولید.

ډېر ورته حيران شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

د هغه پښې او مشوکه هم سپینه وه.

په زړه کې یې و ویل:

د دې کارغه مشوکه او پښې سپینې دي.

کېدای شي غوښه یې هم حلاله وي.

بیا یې هرڅه هڅه وکړه چې هغه ونیسي مګر ونه توانېد، بیا والوت.

ټوپک یې هم تش وه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

هغه په بلې اوچتې څانګې کښېناست.

وزر يې لږ زخمي شوی و.

لږ، لږ وینه ترې راتله.



چچو خپل چاکو له جبه و وېست او یوه لیسه څانګه يې د بلې ونې نه پرېکه کړه.

بیا هغې ونې ته لاړ چې کارغه پر څانګې ناست و.

څانګه يې کارغه ته نږدې کړه او غوښتل يې چې په څانګې يې لاندې و غورځوی، خو کارغه ډېر هوښیار و او د هغې څانګې نه بلې اوچتې څانګې ته وخوت.

د چچو څانګه هغه ته ونه رسېده او په سوچ کې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

....................................



(c) ketabton.com: The Digital Library



چچو بله لاره و نه مونده.

مجبوره شو ټوپک پر پولې کېږدي او ونې ته وخېږي.

لمړی خولۍ یې له سره لرې بیا یې پر پولې کېښوده.

وروسته یې واسکټ او بوټان هم وباسل.

هغه یې هم پر پولې کېښودل.

بیا یې ځانګه د ونې ډډ سره تکیه او خپله و نې ته وخوت.

ځانګه یې هم ونې ته پورته کړه.

کارغه و رته کتل او څه یې نه ویل.

بیا هغه ځانګه واخیسته او کارغه یې ځمکې ته وغور ځاوه.

بیا یې ځانګه هم وغورزوه او خپله هم په چټکۍ سره ځمکې ته کوز شو.

کارغه ډېر ستړی شوی و.

د بلې خوا زخم یې درد کوه.

د منډو توان یې نه درلود.

د سبزو پر سر کښېناست.

چچو هم منډه کړه او هغه یې و نیو.

بیا پولې خوا لاړ، چېرته چې د هغه ټوپک او کالي وو.

کارغه یې پر پولې کېناوه او خپل ځادر یې پرې واچوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................



بیا خپل بوټان یې په پښو او واسکټ یې واغوست.

بیا یې خولۍ پر سر او ټوپک یې اوږې ته واچوه.

وروسته یې کارغه په لاس کې ونیو او څادر یې اوږې ته کړ.

په پولو ورو، ورو کور خوا ته روان شو.

لږ څنډ وروسته کلي ته ورسېد.

ماشومانو له هرې خوا منډې کړې.

چا به ویل:

چچو ماما سپینه بته ویشتې.

نورو به ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

سپینه کوتره ده.

څومره غټه کوتره ده.

چچو و ویل:

نه بته ده او کوتره.

دا سپین کارغه دی.

ټول حیران او هک پک شوو.

ټولو به ویل:

کارغه خو تور وي.

دا خو سپین دی.

چا به د مرنډو ویل:

دا خو تور وو.

چچو ماما، په سپین رنګ سره یې سپین کړی دی.

چچو به په غصه کېده او ویل:

نه ګوري هغه زخمي دی.

پرېږدي چې هغه کورته یوسم او دوایې یې وکړم.

چچو کور ته د ننه او د هغه پر زخم یې دوایي کېښوده او کوټې کې یې خوشې کړ.

هغه کړکۍ خوا ته لاړ او کېښناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

....................................



څو ورځې تېرې شوې.

هغه په بنه کېدو شو.

لږ، لږ به په کوټې کې له يوې خوا، بلې خوا ته الوت.

هغه لږ، لږ د چچو او د هغه بنځې سره بلد شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

بیا به یې انګړ کې خوشې کوه.

د انګړ یوې برخې نه به بلې برخې ته الوت او قاغ، قاغ به ویل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................





(c) ketabton.com: The Digital Library

## سپین کارغه

...................................

بیا یې یوه غټ کپس (قفس) د خپل انډیوال نه واخیست او کور ته یوړ.

بیا هغه یې په کپس کې بند کړ.

اوبه او خواړه یې ورته په لوښو کې کېښودل.

هغه به لږه، لږه دانه خوړه.

قاغ، قاغ به یې ویل.

ځیني وخت به تور کارغان هم راټولېدل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................





(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

څه موده نوره هم تېره شوه.

کارغه بېرته روغ شو.

بیا به یې د کپس نه خوشې کوه، هغه به په انګړ کې ګرځېده اخوا دېخوا به الوته بیا به په خپله کپس کې ننوت.

ماښام د چچو ښځې د کپس دروازه بندوه تر څو کومه پیشو او یا ګیدړ یې و نه خوري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................





(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................





(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................





(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................





(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

....................................



ورځې او شپې تېرېدي.

د اوړي ورځې تېرې او منی ورسېد.

اوا(هوا) مخ په سړېدو شوه.

کارغه به د ورځې د شاو خوا اوچتو ونو ته خا ته او قاغ، قاغ به يې ويل.

راز، راز مرغان به د هغه شاوخوا راټولېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

مګر هېڅ یو یې هم د کارغه  او یا د هغه د کورنۍ په شان نه وه.

ځینې مرغانو به چې لیده، د هغه به بېرېدل او بلې خوا به، الوتل.

هغه به ډېر خواشینی کېده، کوم وخت چې به مرغان د هغه نه تښتېدل او نورو ونو ته، تلل.

او ا(هوا) نوره هم سړه شوه .

ژمی ورسېد.

کوم، کوم تور کارغان به په اوچته  تېرېدل.

سپین کارغه به هغه لیدل او قاغ، قاغ به یې ویل.

ځینې به کښته کېدل او دورې به یې وهې.

خو سپین کارغه په انګړ ونې کې ناست او کارغان به د انسانانو نه بېرېدل  او ونې کې نه کښېناستل او بېرته اوچتېدل.

سپین کارغه به کله الوت او د تورو کارغانو سره شاو خوا دورې وهې او بېرته به ونې ته کوزېده او په لوړو څانګو به کښېناسته.

وختونه تېرېده.

او ا(هوا) سړېده.

کارغان ډېرېدل.

خو تور کارغان به بېرېدل او د انګړ په ونو کې نه کښېناستل.

د ژمې منځ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

ساړه، ساړه بادونه پیل شوو.

د کارغانو کتارونه به ټیټ، ټیټ تیرېدل.

سپین کارغه به د ونې په سر کې کښېناسته او نورو کارغانو ته به یې غږونه کول.

یوه ورځ سپین کارغه ډېر خواشینی و.

د چچو ښځه هم چېرې تللی وه.

د کارغه خوشې کول یې له هېره (یاده) وتي وو.

غرمه شوه.

کارغه تږی و.

اوبه یې هم یخ وهلې وې.

ماسپښین شو.

د چچو مېرمنې په یاد راغی چې کارغه یې نه دی خوشې کړی.

هغه ډېره خواشینې شوه.

په منډو، منډو کورته یې ځان ورساوه.

ژر کېس ته نږدې او دروازه یې خلاصه کړه.

سپین کارغه والوت او پر لوړې څانګې کښېناست.

بیا یې په قاغ، قاغ ویلو پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

څو شېبې نه وې تېرې شوې چې يوه تور کارغه د هغه د سر نه تېر شو.

بيا هغه هم قاغ، قاغ ويل، پيل کړ.

سپين کارغه هم قاغ، قاغ و ويل.

بيا سپين کارغه د ونې واولوت او څودورې يې د تور کارغه سره و وهې.

بيا سپين کارغه بېرته ونې کې کښېناست.

تور کارغه څودورې و وهې.

بيا هغه هم د سپين کارغه تر څنګ کښېناست.

باد سوړ، سوړ لګېده.

لمړى سپين کارغه په بلې څانګې کي چې د ونې ډډ ته پنا او باد نه په امن و، کښېناست.

لږ وروسته تور کارغه هم، الته لاړ.

دواړو پر خبرو اترو پيل کړ.

خوږې، خوږې کيسې پيل شوې.

سپين کارغه خوشحاله نه مالومېده.

هغه ډېر خواشينى وه.

تور کارغه هغه ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................



(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ولې خپه یې؟

سپین کارغه و ویل:

بس!

هسې!

یواځې ژوند.

هغه و ویل:

دلته یواځې څه کوې؟

هغه خپل د ژوند کیسه یې توله کارغه ته بیان کړه.

هغه و ویل:

ته مه خپه کیږه!

زه به هر ورځ راځم او دواړه به دانګړ ونې په څانګو کې کیسې کوو.

زه به تا ته ښې مېوې هم راوړم.

سپین کارغه و منه او ډېر خوشحاله شو.

تور کارغه د هغه سره تر ماښامه پاتې شو.

بیا ماښام والوت او ځنګله ته لاړ.

سبین کارغه هم کښنته او خپل کپس ته ننوت او پر خوړو یې پیل کړ.

بیا یې اوبه وڅښې او بیده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

سبا شو.

پر قاغ، قاغ ویلو یې پیل کړ.

د چچو ښځه هم لمانځه ته پاڅېده او د کپس دروازه یې خلاصه کړه.

کارغه بیا هماغه ځای ته واولوت کوم چې پرون د بل تور کارغه سره ناست و.

څو دکیکې لا نه وې تېرې شوې چې دوې تور کارغان ورسېدل.

یوه یې هماغه پرونی کارغه او بل یې د هغه ورور و.

هغوی ښکلې مېوې راوړې وې.

بیا پرونی تور کارغه خپل ورور نه میوه واخیسته او سپین کارغه ته یې ورکړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

سپین کارغه هم په مزه، مزه و خوړه.

بیا یې د هغوی نه مننه وکړه.

څو ورځې تېرې شوې.

تور کارغه هم بلد شو.

چچو او د هغه ښځې به تور کارغه ته، څه نه ویل.

تورکارغه به د شپې له خوا ځنګله ته، ته او سپین کارغه به بېرته خپل کپس ته راته او الته به ویده کېده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................



څه موده نوره هم تېره شوه.

بیا تور کارغه سپین ته و ویل:

راځه چې د ورځې خوا ځنګله ته لاړ شوو.

التـه نور کارغان هم شته.

سپین کارغه و ویل:

التـه سپین کارغان هم شته؟

تور کارغه و ویل:

هو!

خورا ډېر دي.

راځه چې لاړ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

سپین کارغه و ویل:

اوس خو ناوخته ده.

سبا وختي راشه!

بیا به دواړه لاړ شوو.

تورکارغه ومنه او له ونې واولوت.

سپین کارغه هم د ونې ښکته شو او په انګړ کې په ګرځېدو یې پیل کړ.

اخوا دېخوا ګرځېده.

بیا پر یوې ډبرې کښېناست.

وروسته یې د چورګوړو او چرګانو په ننداره پیل کړ.

اوا(هوا) تیاره شوه.

هغه هم کپس ته، ننوت.

څنډ وروسته د چچو ښځه راغله او د کپس دروازه یې وتړه.

بیا هغه پر خوړولو پیل کړ.

خواړه یې وخوړل، کوم چې په کپس کې د چچو ښځې هغه ته ایښي وو.

بیا یې اوبه و څښې.

اخوا دې خوا یې ټوپونه و وهل او بیا بیده شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

شپه تېره شوه.

ورځ شو.

سهار وختي تور کارغه ځان ورساوه او پر ونې کښېناست او پر قاغ، قاغ ویلو یې پیل کړ.

بیا د چچو ښځه کپس ته نږدې شوه او د کپس دروازه یې  خلاصه کړه.

سپین کارغه د نورو ورځو په څیر ونې ته واولوت او د تور کارغه تر څنګ کښېناست.

بیا دواړو په خبرو اترو پیل کړ.

څو شیبې یې خبرې وکړې.

بیا تور کارغه و ویل:

زه الوزم او ته د ما پسې واولوځه.

هغه و منه.

بیا تور کارغه واولوت.

څو ثانې وروسته سپین کارغه هم واولوت.

تور کارغه دمخه او سپین کارغه ورپسې شو.

ګړۍ وروسته دواړه ځنګله ته ورسېدل.

د لرې کارغان ښکارېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................



کارغان سپین او تور وو.

هغوی هم د کارغانو ډلي خوا، روان شوو.

سیمې ته نږدې شوو او پر ځمکې کښېناستل.

هغه د نورو سپینو کارغانو سره، بلد شو.

ورځ یې الته تېره کړه.

بیا ماښام بېرته د تور کارغه سره کورته راغی.

څو ورځې تېرې شوې.

هغوی به یوه ځای تلل او بېرته راتلل.

څو ورځې وروسته، تور کارغه سپین ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

.................................

څه هره ورځ به سهار ځنګله ته ځو او ماښام تا تر کوره رسوم او زه به خپله ببرته راځم.

ښه به داوې چې دواړه په ځنګله کې پاتې شوو او د پلارونو او نیکونو په خبر به الته ژوند وکړ.

سپین کارغه و ویل:

زه دلته بلد شوی یم.

ماته هر راز خواړه را کوي.

کومه ستونزه نه لرم.

بیا تور کارغه و ویل.

هر وخت چې سهار راځم ته په کپس کې یې.

سپین کارغه و ویل:

ته رښتیا وایي.

چچو زما د پاره لوی کپس جوړ او زه به یې په هغه کې ایساروم چې ما پیشو او یا ګیډل و نه خوري.

هغه وخت کې زما وزر ژوبل و.

اولوتی مې، نه شو.

بیا چچو او د هغه ښځي زما دوایی وکړه.

زه جوړ او بیا به هغوی په ونې کې خوشې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

.................................

لږ وروسته جوړ شوم.

اخوا دېخوا به اولوتم او ماښام به، بېرته خپل کپس ته راتلم.

تور کارغه و ویل:

ستا خوښه!

مونږ آزاد او تل په آزادۍ کې خوښ یو.

هرې خوا اولوزو او الته ځوو چې زمونږ خوښه وي.

ژمی تېر شو.

پسرلی شو.

اوا(هوا) توده شوه.

کارغان بلې خوا او سړو سیمو ته کډه شوو.

سپین کارغه یوازې پاتې شو.

تور کارغه هم د نور کارغانو سره کډه شو.

یوه ورځ تور کارغه د غرڅه ښه غوښه یې خولې ته ورغله.

په زړه یې سپین کارغه وګرځېد.

بیا یې و ویل:

ښه به دا ویي چې دا غوښه خپل ملګري یانې سپین کارغه ته ورسوم.

هغه نورو کارغانو ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

زه د یوې ورځې له پاره د سپین کارغه، کورته ځم.

ماښام به بېرته راشم.

د کار غانو مشر و ویل:

زه موافقه نه یم.

الته اوا(هوا) ډېره توده ده.

کېدای شي ناروغه (مریض) شې.

هغه و ویل:

ما هوډ کړی چې الته لاړ شم.

بیا د کارغانو مشر و ویل:

ستا خوښه!

ما خپله خبره وکړه.

بیا هغه د نورو کارغانو سره خدای پاماني وکړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

هغه واولوت او مخ پر تودې سیمې، روان شو.

څومره به چې د سپین کارغه کور ته نږدې کېده، اوا(هوا) به تودېده.

څنډ وروسته د سپین کارغه سیمې ته ورسېد.

اوا(هوا) ډېره توده وه.

پر هغه خولې ماتې (جارې) شوې.

نفس وېستل، هغه ته ستونزمن و.

ګړی بله هم تېره شوه.

هغه د سپین کارغه انګړ ته ورسېد.

بیا پر اوچتې څانګې کښېناست.

غوښه یې په پنجو کې و نیوه او پر قاغ، قاغ ویلو یې پیل کړ.

اوا(هوا) ډېره توده وه.

سپین کارغه د ونې پر څانګې ناست او ډډ ته یې تکیه وهلې وه.

پر هغه هم خولې روانې وې.

د کارغه د غږ پر اورېدو سره یې قاغ، قاغ و ویل.

دا په دې مانا چې زه دلته یم.

تور کارغه هم لاندې څانګې ته ټیټ شو او د سپین کارغه سره یې روغبړ وکړ.

سپین کارغه د تور کارغه په لیدو ډېر خوشحاله شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

بیا تور کارغه هغه ته د هوسۍ خوږه غوښه ورکړه او هغه هم په ډیره مزه ،مزه یې وخوړه.

څو دکیکې نه وې تېرې شوې چې د تور کارغه زړه په تنګ شو او سپین کارغه ته یې و ویل:

اوف!

دلته څومره ګرمي ده.

زه خو، خولې پلې یم.

زمونږ د سیمې اوا(هوا) ډېره ښکلې، او هر راز میوې او غوښې پرېمانه دي.

لېوان، پړانګان، زمریان ښکار کوي او د هغو نه پرېمانه غوښې پاتې کیږي او مونږ یې په ګډه خورو.

خوشحاله او د خندا نه ډک ژوند کوو.

هرې خوا په ځنګله کې ګرځو مېوې او دانې خورو.

الوزو!

په سیندونو او چینو کې پاکې او صفا اوبه څښوو.

سپین کارغه و ویل:

هو!

په یاد مې دي.

کوم وخت چې زه وړکی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما به هم د تاسو په شان غوبنې خوړې.

خو!

اوس دلته عادت شوی یم.

زړه مې نه کیږی چې بیا ځنګله ته، لاړ شم.

تور کارغه و ویل:

ډېر تږی شوی یم.

اوبه چېرې دی؟

سپین کارغه و ویل:

لاندې وګوره په هغه لوښي کې اوبه دي.

تور کارغه لاندې واولوت او د اوبو لوښي څنډ ته کښېناست.

د اوبو پر څښلو یې پیل کړ.

اوبه تودې وي.

هغه ته یې خوند ور نه کړ.

بله چاره هم نه وه.

هغه ډېرې اوبه وڅښې.

بیا بېرته  ونې ته واولوت او د سپین کارغه تر څنګ کښېناست.

د تور کارغه ګرمي شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

....................................

بیا یې سپین کارغه ته، و ویل:

دلته ډیره ګرمي ده.

هیڅ طاقت نه کیږي.

زه باید بېرته لاړ شم.

الته ماته، ټول په تمه دي.

سپین کارغه و ویل:

ستا خوښه!

د غوښې نه، نړۍ مننه.

بیا تور کارغه په قاغ، قاغ ویلو واولوت او خپلې سیمی خوا یې حرکت وکړ.

څو ګړۍ تېرې شوې.

ماښام هغه بېرته خپلې سیمې ته ورسېد.

ډله په اوچتو څانګو، ناست وو.

هغه هم اوچتې څانګې کې کښېناست او پر قاغ، قاغ ویلو یې پیل کړ.

دا په دې مانا چې زه په خیر سره و رسېدم.

کارغان د هغه شاو خوا راتاو شوو.

د هغه سره یې ټوکې ټکالې پیل کړې.

بیا یې د اوا پوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

تور کارغه و ویل:

پوښتنه مه کوئ.

ډېره ګرمي وه.

لږ مې اوبه و څښې.

هغه د ښوروا په شان تودې وې.

په خولو کې لوند خیشت وم.

ښه شو چې بېرته، راغلم.

شاباش (آفرین) دې پر سپین کارغه وي چې هغه څنګه الته ژوند کوي.

مجبوریت الته عادت کړی دی.

ما هغه ته ډېر و ویل:

مګر هغه زما سره را نه غی.

په دې وخت کې د کارغانو مشر ورته پام شو.

هغه و ویل:

په ژمې کې مونږ د هغه سیمې ته نږدې ځو.

له هغه به وغواړو تر څو بېرته زمونږ سره یوځای شي.

تور کارغه خوشحاله شو.

دوبی تېر او بیا منی ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

اوا(هوا) سړه شوه.

کارغان مجبوره وه چې، د دې سیمې نه کډه وکړي.

درې میاشتې نورې هم تېرې شوې.

کارغان د خوراک موندلو د پاره بیا هغې سیمې ته نږدې کوم چې سپین کارغه په کې ژوند کوه، کډه وکړه.

تور کارغه هره ورځ د سپین کارغ پوښتنې ته، ته او کله ناکله به سپین کارغه هم د کارغانو ډلې خوا ته، ته او الته به یې د هغوی سره لیده کاته کوه .

کله به ډېر کارغان د هغه سره ملګري کېده او سپین کارغه به یې تر کوره رساوه او هغو ی به، بېرته خپلې سیمې ته، تلل.

څه موده نوره هم تېره شوه.

بیا اوا (هوا) توده شوه.

کارغان د سړو سیمو په سوچ کې شوو.

هغوی سره راټول شوو.

د کارغانو مشر و ویل:

دلته اوا(هوا) مخ په تودېدو شوه.

مونږ مجبوره یوو چې، الته کډه وکړو.

خبري اترې پیل شوې.

هرچا به څه ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور کارغه و ویل:

زما یوه ملګری په انګړ کې ژوند کوي.

باید هغه و هڅوو تر څو انګړ پرېږدي او له مونږ سره لاړ او پاتې ژوند زمونږ سره تېر کړي.

ټوله ومنه او تور کارغه، د کارغانو مشر ته یې و ویل:

ښه خبره به دا وې چې د کارغانو مشر زما سره لاړ شي او د سپین کارغه سره نیغ په نېغه خبرې وکړي.

ټولو و ویل:

ګل(  ښه یا ښکلې) خبره دې وکړه.

بیا یې و ویل:

څه وخت به حرکت وکړو.

تور کارغه و ویل:

اوس څه ناوخته او زه هم وږی یم.

ښه به دا وي چه صبا وختي لمر ختو نه مخکې حرکت وکړو.

د کارغانو مشر و ویل:

سمه ده!

که چېرې ویده شوی وم، بیا مې راویښ کړه.

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده!

حتمی دې وینوم!

بیا د کارغانو مشر خوشحاله او د نورو سره په خبرو اترو شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

شپه تېره شوه.

صبا وختي تور کارغه د کارغانو مشتر چې نه سپین او نه تور او تر درې سوه کاله يې عمر ډېر و، د سپین کاغه استوګنځي ته، لاړل.

البته د ونې په سر کې کښېناستل او پر قاغ، قاغ يې پيل کړ.

په دې وخت کې د چچو ښځه راغله او د سپین کارغه د کپس دروازه يې خلاصه کړه.

سپین کارغه واولوت او د تور کارغه خواته کښیناست، بیا یې د تور او کارغانو مشر سره، روغبړ وکړ.

د کارغانومشرهغه يې ښېرته خپلې سيمې او ډلي ته دعوت کړ، په لمړي کې هغه نه منه او ويل يې چې دلته عادت شوی یم.

بیا د کارغانو مشر ورته ډېر نصيحت وکړ.

هغه و ويل:

بس!

څه چې تاسو واياست زه به يې ومنم.

خو!

د چچو او د هغه دښځې نه څنګه خدای پاماني واخلم ؟

تور کارغه و ويل:

مونږ د هغوی او هغوی زمونږ په خبرو نه پوهيږي.

ښه به دا وي چې لمړی به زه واولوزم او قاغ، قاغ به و وايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

...................................

بیا به تور کارغه واولوزي او قاغوقاغ به و وایي؟

په دې وخت کې به د چچو او د هغه د ښځې پام مونږ ته شي او پوی به شي چې مونږ واولوتو او خدای پا ماني مو واخیسته.

مونږ به دورې وهو.

په دې وخت کې به ته هم واولوزې او قاغ، قاغ به و وایي.

بیا به مونږ روان او ته به د انګړ پر سر دورې دورې او قاغ، قاغ و وایي.

هغوی به پوی شي چې تا هم خدای پاماني واخیسته او بیا بېرته نه راځې.

په دې وخت کې سپین کارغه هم له ونې واولوت او په قاغ، قاغ ویلو یې پیل کړ.

بیا یې درې دورې پوره کړې او د تور او کارغانو مشر په سې روان شو.

چچو او د هغه ښځې کارغانو پسې کتل او ویې ویل:

د ښو زیرې - په مردارو واوړئ.

بیا یې هغوی د انګړ نه د باندې او ترڅو یې چې سترګو کار کوه هغوی پسې یې کتل تر څو د غرونو شا (څټ) ته پناه شوو.

بیا هغوی سوړ اوسېلي و باسل او ویې ویل:

هی ژوند ............................

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا انګړ ته ننوتل.

چچو پر کټ کښېناست.

ښځې ته یې و ویل:

شین چای دم او لږ ګوړه راوړه چې چرت مې خرابه شو.

هغه زمونږ او مونږ د هغه سره عادت کړی و.

ښځې یې چای راوړ.

هغه چای وڅښه،

خو!

ډېر خپه و.

بیا کوټې ته د ننه او ټوپک یې را وباسه.

ښځې ته یې و ویل:

ټوپک ته پوښ وګنډه او ټوپک په پوښ کې کړه.

ښځې یې و ویل:
خیریت خو به وي.
هغه و ویل:
بس!
ما د ښکاره ټوبه وباسه.
نور ښکار نه کوم.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایې
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکې و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آستر لیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جلد اول)
۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معمارۍ پیل
۴۵. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو بڼونه او پارکونو معماري
۵۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۵۴. شپنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مینې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خوارږه ملګري (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٠. د يوې مياشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاخکو هار (د يوه سړی لنډې کيسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېره (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غريبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [ديارلس کلنه فلسطينۍ انجلۍ تر نړېدلي ودانۍ (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتي / چوب ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاريګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عينک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زير خاک (نزديک معدن مس عينک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٨٤. ساختمان های کانټینری
٨٥. کانټینري ودانۍ
٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
٨٨. خړه بیزو(پښتو کیسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپین کارغه (پښتو داستان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین کارغه

..................................

**د کار لاندې کتابونو لېست**

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. لیونی لېوه
٤. بندي مرغه
۵. بې وخته باران
۶. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

1. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
2. تاریخ معماری افغانستان
3. حویلی های آسمان خراش
4. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
5. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
6. شیطان چراغ
7. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# White

# Crow

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: July - August /2027

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library